# (په خیرالبیان کښې ذکر شوي د صحاح سته د حدیثونو تحقیقي او تنقیدي جائزه)

# Validity of Hadiths from " Sehah- e- setha" written in " Khair – Ul - Bayan"

**Dr.Abdul Hakim Shah Khatak**★

**ABSTRACT**:

The second era of Pashto literature has proved to be a bacon of light for both Pashto poetry and prose. Regularly, we get the poetry and prose books and pamphlets of this period in printed and non printed form that we can see and read.

Bayazid Ansari, the fonder of Roshani tahreek, and his Followers and opponents used their pens openly for Pashto poetry and prose, this is the first permanent book. Bayazid Ansari wrote Khair-ul-bayan in four languages, Arabic, Persian, Pashto and Hindi. The style of this bokk is inspirational, preachy, oratorical argumentative and marrtyrdom.

His subject is Fiqh and sufism. In this book, Bayazid Roshan has consciously used the words and words of different dialect of different tribes and regions od Pashtuns and some words and terms of his own creation. But in spite of this , there are also arabic and Persian words and words based on religious and religious topics-in order to communicate his thoughts and improve his speech, he has many Qur'anic verses in istish'had justification and reasoning . and he brings Ahadiths of the holy Prophet.

The present study offers a critical review of ahadiths writen in "Khair-ul-bayan",that are available in "Sehah-e-Sitha" and Valid.

**Key Words:** Khair-ul-bayan, sahih bukhari, sahih muslim, sunan e termezi, sunan e abu Daud, Sunan e Ibn e Maja.

روښاني دوره په رښتیا معنو کښې د پښتو ادب دپاره روښانه ثابته شوه ـ د پښتو ادب تېره غوني ئې د خپلو پلوشو په سبب د رڼائۍ په لور روانه کړه ـ نۀ یواځې روښاني تحریک سره تړلیو شاعرانو او ادیبانو د خپل شعر او ادب په برکت پښتو ادب ته لویه او قیمتي ذخیره ورکړه بلکې مخالفینو ئې هم د دوي پر ضد پښتو ادب ته خپل قیمتي او ارزښتناک اثار ور وبخښل چې له کبله ئې د پښتو ادب پنګه نن هم شاهده دے ـ

★ Lecturer Government Degree College Banda Dawood Shah, Karak

که یو طرف ته د روښاني تحریک سرخېل بایزید روښان د خپل ژوند، فکر او فلسفې په وسیله د خپل اولس د لارښودنې په غرض عربي، فارسي، هندي او پښتو کښې تصنیفات وکړل نو بل اړخ ته په مقابل کښې اخوند درویزه بابا هم د خپل اولس د لارښودنې د پاره فارسي او پښتو کښې خپل کتابونه مخې ته راوړل.

د بایزید انصاري په تصنیفاتو کښې د ټولو نه مهم او زیات مشهور و معروف کتاب "خیرالبیان" دے. د شهرت او اهمیت یو سبب ئې د "تعرف الاشیاء باضدادها" په مصداق هم کېدے شي چې اخون درویزه بابا د دې کتاب سخت مخالفت کړے دے او د "خیرالبیان" په ځائے ئې "شرالبیان" نوم ورکړے دے[1]. بله مهمه وجه ئې دا ده چې پښتو ادب ئې د امکاناتو نه موجوداتو ته راوستو. د بالواسطه ادب نه د بلاواسطه ادب په لور راورسېدو. په دې دور کښې مونږ باقاعده د پښتو ادب وړومبے مستقل کتاب د خیرالبیان په صورت کښې لیدلے او لوستلے شو.

په وړومبي ځل د خیرالبیان مطلقاً ذکر عبدالقادر بدایوني (۱۰۰۴هـ مړ) په خپل کتاب "منتخب التواریخ" کښې کړے دے[2]. خو د عبدالقادر بدایوني د انداز بیان نه ما ته داسې برېښي چې دهٔ د خیرالبیان نوم او اوازه اورېدلې وه.

بیا اخون درویزه په "تذکرة الابرار والاشرار" کښې د خیرالبیان ذکر داسې کړے چې دا کتاب په عربۍ، فارسۍ، پښتو او هندۍ کښې لیکلے شوے دے[3]. تذکرة الابرار و الاشرار په کال ۱۰۲۱هـ کښې لیکلے شوے دے[4].

ورپسې شیخ فرید بهکري په خپل کتاب "ذخیرة الخوانین" کښې د خیرالبیان ذکر کړے دے. دا کتاب ۱۰۷۰هجري کښې تالیف شوے. په دې کتاب کښې د اکبر، د جهانګیر او د شاهجهان د زمانې سیاسي او انتظامي شخصیات ذکر شوي.[5] شېخ فرید بهکري د خیرالبیان ذکر داسې کوي: " (بایزید)...په پیر روښان مشهور وهٔ. د خیرالبیان په نوم ئې پښتو کښې یو کتاب تصنیف کړو. دا کتاب د وحدت الوجود په حقله مدلل کتاب دے. په دې کتاب کښې ئې د مظبوط دلیل او د واضح حجت په توګه نص (قرآني ایتونه) حدیثونه، د بزرګانو او سلف صالحینو اقوال راوړي. حقه خبره دا ده چې دا نادر کتاب دے. که څوک ئې د انصاف په نظر وګوري نو د دې نه فیض حاصلولے شي."[6] د شېخ فرید بهکري

د بیان نه داسې څرګندېږي چې دوي هم د خیرالبیان داسې نسخه کتلې وه چې یوائې پښتو برخه ئې لرله.

د دې نه پس موبد کېخسرو اسفندیار په خپل کتاب "دبستان مذاهب"کښې د خیرالبیان ذکر کړے دے. موبد ئې اول د مقصودالمؤمنین ذکر کړے ورپسې لیکي چې "یو کتاب ئې خیرالبیان نومېږي چې په څلورو ژبو کښې لیکلے شوے اول عربي، دویم فارسي، دریم هندي، څلورم پښتو. هم یو مطلب ئې په څلورو واړو ژبو کښې بیان کړے دے"[7]. رحیم رضا زاده ملک د دبستان مذاهب انتقادي متن برابر کړے دے او په دوه جلدونو کښې چاپ دے. یو جلد ئې متن دے او یو جلد ئې تعلیقاتِ متن دے. رحیم رضا د دبستان مذاهب د تالیف کال **۱۰۵۵** هجري نه **۱۰۲۳** هجري یاد کړے دے. خو په دبستان مذاهب کښې د ځینې منقول واقعاتو له کبله بیا ورپسې لیکي:

"پس تاریخ قطعي و نهایي پرداخت دبستان میان دو تاریخ **۱۰۲۳** هجري قمري ...و **۱۰۲۹** هجري قمري ...قرار میګردد"[8]

ترجمه: پس د دبستان د تکمیل قطعي او اخري تاریخ **۱۰۲۳** هجري قمري ...او **۱۰۲۹** هجري قمري ...تر مینځه دے.

البته دبستان مذاهب د طباعت او چاپ له مخه وړومبے کتاب ګڼلے شو چې په اول ځل ئې د خیرالبیان ذکر مخې ته راوړے دے ځکه چې "دسمبر **۱۸۰۹**ء مطابق ذیقعده **۱۲۲۴** هجري قمري کښې د ویلیم بېلي (William Bailey) په تشویق او ترغیب د نذراشرف په اهتمام دبستان مذاهب په اول ځل د کلکتې نه چاپ شۀ."[9]

دا خو صرف د خیرالبیان د نوم ذکر وۀ. په جزوي او مکمله توګه د خیرالبیان د نسخې ذکر چا وکړو ؟ د دې نه اقتباسات چا نقل کړل؟ د دې نسخې چرته وې او دي؟ څنګه وې او دي ؟ ورکې وې؟ ناپید وې؟ څنګه پیدا شوې؟ دا ټول داسې سوالونه دي چې ځواب شوي دي.

په خپله مولانا عبدالقادر د پښتو اکېډیمۍ باني ډائرېکټر چا ته چې د خیرالبیان د راوړلو او چاپ کولو اعزاز په برخه شو، په پېژندګلو کښې دا ټوله قیصه لیکلې ده.

ډاکټر میا سهېل انشا په خپله یوه مقاله "د خیرالبیان نسخه د کوم ځا ے نه ټیوبینګن ته ورسېده" چې د پښتو اکېډېمۍ پېښور یونیورسټي میاشتینۍ "پښتو" (مجله

شماره ۸ ـ ۹،جلد ۲۸،اګست، ستمبر ۱۹۹۲ء کښې چاپ ده، په تفصیل سره د دې متعلق ذکر کړے دے ـ

پروفېسر محمد نواز طائر په خپله یوه مقاله "خیرالبیان پښتو اکېډیمۍ ته څنګه را ورسېد ؟"چې د پښتو اکېډېمۍ پېښور یونیورسټي "پښتو"(مجله) جولائي اګست، ستمبر ۲۰۰۲ء کښې چاپ ده ، په تفصیل سره په دې حقله لیکل کړي دي ـ

ډاکټرمحمدعلي دیناخېل په خپله یوه مقاله "په جرمني کښې موجود د پښتو د وړومبۍ قلمي نسخې خیرالبیان پېژندګلو "چې د علامه اقبال اوپن یونیورسټۍ اسلام اباد "پاکستانی زبان وادب"(کالیزه مجله) جنوري تا دسمبر ۲۰۱۷ء کښې چاپ ده ، په تفصیل سره په دې حقله لیکل کړي دي ـ

په کال ۱۹۲۷ء کښې د خیرالبیان موجوده چاپ کتاب د مولانا عبدالقادر په زیار د پښتو اکېډیمۍ پېښور یونیورسټۍ نه په وړومبي ځل چاپ شو ـترتیب او تدوین ئې حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي کړے ـ شپږ مخونه د الفبې په ترتیب فهرست ورکړے شوے دے ـ یادګېرنه او مننه سرخط لاندې پرې مولانا عبدالقادر لیک کړے دے ـ دې د پاره ۱، ۲ شمېره په کارولې شوې ده ـ پېژندګلو هم پرې مولانا عبدالقادر لیکلې ده ـ دغې ته بیا ځانته د ۱ نه ۱۲ پورې شمېر په ترتیب نمبرې ورکړې شوې دي ـ د دیباچه تر عنوان لاندې پرې حافظ محمد عبدالقدوس ۹۲ مخونه جامعه مقدمه لیکلې ده دغه ته هم بیا ځان له د ۱، ۲، شمېرې ترتیب ورکړې شوے دے ـ بیا د خیرالبیان متن ۱ نه ۳۰۱ مخونه لري ـ متن کښې ځاے په ځاے قاسمي صاحب پرې تخریجي او وضاحتي حاشئې هم لیکلې دي ـ

په کال ۱۳۵۳ هـ ش مطابق د ۱۹۷۴ء کښې د حبیب الله رفیع او زلمي هیوادمل په اهتمام خیرالبیان د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځاے،کابل نه چاپ شو ـ دا عکسي چاپ دے ـ دا د هغې نسخې فوټو کاپۍ نه تیار شوے چې عبدالرؤف بېنوا د ټیوبنګن پوهنتون څخه راغوښتې وه ـ "سریزه"پرې پوهاند عبدالحی حبیبي لیکلې ده چې د ۱ نه ۳۴ مخ پورې ده ـ "د بایزید روښان یادونه" تر عنوان لاندې د ۳۵ مخ نه ۵۴ مخ پورې عبدالرؤف بېنوا پرې غوره مقاله لیکلې ده ـ په دې مقاله د هغه کتابونه، رسالې، مجلې ذکر شوي په کومو کښې چې د بایزیدروښان یادونه شوې ده ـ "د خیرالبیان لیک دود" تر سرخط لاندې د ۵۵ مخ نه

تر ۸۰ مخ، او د ۸۱ مخ نه ۹۸ پورې، د خیرالبیان نظم دے که نثر؟ عنوان لاندې پرې پوهاند عبدالشکور رشاد علمي مقالې لیکلې دي ـ دې نه پس اول شپږ مخونو د خیرالبیان د عنواناتو فهرست ورکړے شوے دے ـ دې نه پس د خیرالبیان متن عکسي چاپ دے چې د مخونو شمېر ئې ۱ الف، ۱ ب ، ۲ الف، ۲ ب په ترتیب مرتب دے ـ خو په ځینې ځایونو کښې دا ترتیب ګډوډ شوے هم دے لکه ۱۰ الف پسې ۱۵ب مخ لګېدلے دے ـ ۱۲۷ب د متن اخري مخ دے ـ د متن د ختمېدو نه پس عبدالشکور رشاد "د خیرالبیان لغتونه" په نامه د دې متن یوه غوره لغتنامه لیکلې ده ـ اول پینځۀ مخونه ئې ابجدي شمېره لري ـ بیا د ۱ نه ۱۲۲ پورې دغه لغتنامه تکمیل ته رسي ـ

په کال ۱۳۶۲هـ ش او ۱۳۶۳ هـ ش (۱۹۸۴ء) کښې زلمے هیواد مل هندوستان ته د یو علمي سفر په دوران د "خیرالبیان" یوه قلمي نسخه ومونده ـ د دې نسخې تفصیلات ئې په خپل کتاب "د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې" کښې لیکلي دي ـ[10]

په کال ۱۹۸۵ء یا ۱۹۸۶ء خیرالبیان د پښتو ادبي مرکز سرا ے نورنګ نه چاپ شۀ ـ د دې چاپ تفصیلات او مندرجات داسې دي: خیرالبیان (اوله حصه) تصنیف دبایزید روښان انصاري، مقدمه حبیب الله رفیع، ادبي خدمت : قاسم بنوي، خوروونکے د پښتو ادبي مرکز سرا ے نورنګ (بنو) ـ چاپ کال نۀ لري ـ

قاسم بنوي د "ادبي خدمت" سرخط لاندې داسې وضاحت کوي: "خیرالبیان د پښتو ژبې د نثر یو زوړ کتاب دے ـ ډېرې مودې راسې د پښتو ایم اے په کورس کښې شامل راغلے دے ـ د نوي کورس مطابق د دې وړومبۍ سل صفحې د اول کال په نصاب کښې شاملې دي ـ مونږ د خیرالبیان نصابي متن د دوو چاپي نسخو له مخې تیار کړ او د بیا کتنې او سریزې کار مې ئې د پښتو ژبې یو پیاوړي محقق شاعر او ادیب ښاغلي حبیب الله رفیع ته وسپارۀ او یوه ښه غوریزه تحقیقي مقاله ئې پرې ولیکله ـ" (همدغه چاپ نسخه مخ ۲ ـ)

د دې وضاحت نه پس قاسم بنوي ۴/ ۴/ ۸۶ لیکلي ـ

حبیب الله رفیع پرې د ۳ مخ ۳۴ مخ پورې د سریزې تر عنوان لاندې تفصیلي مقاله لیکلې ده ـ د سریزې په اخر کښې ۵/ ۷/ ۱۳۶۴ نېټه درج ده ـ چې د عیسوي مطابق ۱۹۸۵ ۱ جوړېږي ـ د رفیع صاحب یو بل کتاب "روښاني لیکنې" کښې هم دغه نېټه ۱۹۸۵ء لیکلې

ده[11] .نو ممکنه ده چې حبیب الله رفیع سریزه په ۱۹۸۵ء کښې لیکلې وي او کتاب په ۱۹۸۲ء کښې چاپ شوے وي.

په کال ۱۹۸۸ء کښې په دویم ځل د پښتو اکېډیمۍ، پېښور یونیورسټۍ نه هم هغه ۱۹۲۷ء مطبوعه کتاب بیا چاپ شو. د هغه وخت ډائرېکټر پروفېسر محمد نواز طائر ۵، ۲ او ۷ مخونو باندې بلاعنوان پېش لفظ لیکلے .نور ترتیب ئې هم زوړ دے خو د مخونو د شمېرې ترتیب ئې د اول مخ نه ۱ ، ۲ په حساب ورکړے شوے دے .چې په دې حساب ټول کتاب ۴۳۱ مخونو پورې شمېر لري. په دې کښې متن د ۱۳۱ نه ۴۳۱ پورې دے.

په کال ۱۹۸۸ء کښې " د خیرالبیان تنقیدي مطالعه" په نوم قلندرمومند د خیرالبیان تدوین کړے. د پېښور نه چاپ دے. دغه تدوین د حافظ عبدالقدوس مرتب خیرالبیان او د عکسي چاپ کابل نه اخذ شوے دے چې مدون ئې دریم قرات بولي او د دوي د تحقیق مطابق اصل خیرالبیان دے.

د خیرالبیان یوه چاپ نسخه د پښتو ادبي ټولنه چمن بلوچستان له خوا چاپ ده چې د چاپ کال نۀ لري خو د دې چاپ ټول کوائف د پښتو اکېډیمۍ له طرفه په ۱۹۸۸ء کښې په دویم ځل چاپ شوي کتاب یه شان دي.

په کال ۲۰۱۷ء کښې خیرالبیان په دریم ځل د پښتو اکېډیمۍ له خوا چاپ شۀ. د مخ شمېرې نه بغېر په څلورم مخ " د خیرالبیان دریم اشاعت" سرخط لاندې موجوده ډائرېکټر پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر د دریم چاپ وضاحت کړے. دغه وضاحت تر شپږم مخ پورې دے. په اوم او اتم مخ د ۱۹۸۸ء د ډائرېکټر پروفېسرمحمدنواز طائر بلاعنوان پېش لفظ دے. نور ټول تفصیلات او کوائف ئې د ۱۹۸۸ء چاپ مطابق دي.

په کال ۱۳۹۲ش مطابق ۲۰۱۷م کښې خیرالبیان د علامه رشاد خپرندویه ټولنه کندهار نه چاپ شۀ. دا مطبوعه نسخه په وړومبي ځل مکمل په څلورو ژبو کښې یعني عربي، فارسي، پښتو او هندي کښې په چاپ صورت کښې مخې ته راغله. د دې نه وړاندې ئې زلمي هیواد مل په ۱۹۸۴ء کښې خطي نسخه معرفي کړې ده .د دې مطبوعه نسخې سریزه ، ترتیب، سمون او لمنلیکونه محمد معصوم هوتک لیکلي .په ۳او ۴ مخونو د علامه رشاد خپرندویه ټولنې مشر مطیع الله روهیال د کتاب په حقله مختصر لیک کړے او مننه ئې کړې ده.

د ۵ مخ نه ۱۵ مخ پورې ”د خیرالبیان عرفاني او معنوي ارزښت“ تر سر خط لاندې پروفېسر عبدالخالق رشید مقاله لیکلې ده چې د نوي ډیلي په نهرو پوهنتون پښتو څانګه کښې پروفېسر دے .د ۱۲ مخ نه ۳۵ مخ پورې ”د سریزې پر ځای“ عنوان لاندې محمدمعصوم هوتک پرې وضاحتي سریزه لیکلې ده چې په کښې ئې د ټیوبنګن نسخې، پېښور چاپ نسخې۱۹۲۷ء، د کابل چاپ خیرالبیان(عکسي چاپ) د سالارجنګ میوزیم حیدراباد دکن خطي نسخې وضاحت کړے .د سالار جنګ میوزیم نسخې د د عربي، فارسي، پښتو او هندي برخو وضاحت ئې هم کړے.په دغه موجوده او مذکوره چاپ کښې د نسخې ترتیبولو روش هم بیان کړے . په ۳۲، ۳۷، ۳۸، او ۳۹ مخونو باندې د سالارجنګ میوزیم د خطي نسخې د ۲ـ۳، ۲۸۰ـ ۲۸۱، ۲۹۲ـ۲۹۷، ۲۳۳ مخونو عکسونه ترتیب وار ورکړي دي.د ۴۰ مخ نه د خیرالبیان متن شروع شوے چې ترتیب ئې عربي، فارسي، پښتو او هندي دے.د متن اخري مخ ۴۱۳ دے.دغه چاپ نسخه د متن سره توضیحي او تخریجي تحشیه او حاشئې لري.

په کال ۱۳۹۹=۲۰۲۰م هم د علامه رشاد خپرندویه ټولنه کندهار له طرفه د خیرالبیان یوائې پښتو برخه چاپ شوه.دغه چاپ نسخه باندې په ۵ او ۶ مخ باندې مطیع الله روهیال د خپرندویه ټولنې له نېکمرغي وړاندې کړې ده.په ۷ مخ د سالارجنګ میوزیم د خطي نسخې د دوهم مخ عکس او په ۸ مخ د ټیوبنګن خطي نسخې ۱۳۷ب مخ عکس ورکړے شوے دے.”د سریزې پر ځای“ د محمدمعصوم هوتک وضاحتي سریزه ده چې د ۱۳۹۲ش کال چاپ سره دا فرق لري چې هلته د عربي، فارسي، پښتو او هندي برخو په باب وضاحت شوے دلته صرف د پښتو برخې په حقله هم هغه وضاحت شوے.دغه سریزه د ۹ مخ نه ۴۰ مخونو پورې ده. ۴۲ مخ نه د خیرالبیان یوائې پښتو متن شروع شوے چې توضیحي او تخریجي تحشیه او حاشئې لري.دغه متن ۲۳۴ مخ پورې پائے ته رسي.

دې پسې ۲۳۵ مخ نه ۳۲۰ مخ پورې لغتنامه ورکړې شوې ده.دغه لغتنامه د پوهاند عبدالشکور رشاد له خوا د کابل عکسي چاپ دپاره لیکلې شوې وه او د هغې سره چاپ شوې ده.خو د خپرندویه مشر مطیع الله روهیال د وینا مطابق په دغه لغتنامه کښې علامه رشاد صاحب په خپله زیاتونې کړې وې او توضیحات او تشریحات ئې هم کړي وو .(وګورئ هم دغه چاپ خیرالبیان،مخونه ۵، ۲ او د ۲۳۷ مخ حاشیه.)

د دې کتـاب موضـوع عقايـد ، فقهـه او تصـوف د ے ـ نثـر ئـې مسـجع او مقفـی د ے ـ اسلوب الهامي، واعظانه،خطيبانه، استدلالي او استشهادي د ے ـ په دې کتاب کښې بايزيد روښان د پښتنو د مختلفو قبيلو او سيمو د مختلفو لهجو لغات او کلمات او ځينې خپـل جوړ کړي شوي لغات، کلمات او اصطلاحات په کارولي دي ـ خو د دې بـاوجود د ديني او مـذهبي موضوعـاتو په بنا د عربۍ او فارسۍ لغات او کلمات هم په کښې شته ـ عـن تـر دې چې د خپـل فکر د ابلاغ او د خپلې خبرې د پوخوالي دپاره ئې په استشهاد ، استناد او استدلال کښې ډېر قراني ايتونه او د حضور ﷺ حديثونه راوړي ـ چې ځينې په کښې صحيح، حسن، ضعيف او موضوعي هم شته ـ

په دې مقاله کښې په خيرالبيان کښې د ذکر شـويو هغـه حديثونو تحقيقي او تنقيـدي جائزه اخستے شي کوم چې د حديثونو شپږ مشهور کتابونو ( صحاح سته ) کښې موجود دي ـ

**يادګېرنه**:

په دې مقاله کښې نمبروار حديثونه ليکلي شوي ـ اول حديث ليکلے شو ے ـ وروستو د مخ شمېره ورکړې شوې ده چې د خيرالبيان د دريم اشاعت مطابق ده ـ

1. **حديث** : (( من كتب بسم الله الرحمن الرحيم فجوده تعظيما الله تعالى غفر الله ما تقدم من ذنبه )) قال النبى عليه السلام ـ ( مخ ۱۳۱ ، ۱۳۲ )

بايزيد انصاري دا په يو حديث يادکړے د ے ـ خو په دې کښې د ((من كتب بسم الله الرحمن الرحيم فجوده تعظيما الله تعالى غفر الله [لـه])) پوره يو حديث د ے چې ابي نعيم احمد بن عبدالله ( ۳۳۲ـــ ۴۳۰هـ ) په کتاب تاريخ اصبهان ( ذکر اخبار اصبهان ) کښې ذکر کړے د ے[12] ـ دې پسې د حديث دغه الفاظ (( ما تقدم من ذنبه )) د بل حديث الفاظ دي ـ د حديث دغه الفاظ په بخاري کښې داسې ليکلي : (( من توضاء ـ ـ ـ ـ فيهما نفسه، غفر الله له ما تقدم من ذنبه )) [13]

2. **حديث** : (( لَا أُحْصِیْ ثَنَاءً عَلَيْکَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلٰى نَفْسِکَ)) قال النبى عليه السلام ـ (مخ ۱۳۲)

بايزيدانصاري دغه حديث راوړ ےد ے ـ دا حديث په صحيح المسلم کښې هم په دغه الفاظو ذکر شو ے د ے ـ[14]

3. **حدیث** : (( لاَ حَوْلَ ولاَ قُوَّةَ الَّا بِاالله كَنْزٌ مِّنْ كُنُوْزِ الرَّ حْمٰن )) نبي وئيلي دي عليه السلام ـ ( مخ ۱۴۲ )
بايزيد انصاري دغه حديث نقل کړے دے ـ په بخاري او ترمذي کښې دا حديث په دې الفاظو ذکر شوے: (( لاَ حَوْلَ ولاَ قُوَّةَ الَّا بِاالله فَاِنَّهَا كَنْزٌ مِّنْ كُنُوْزِ الْجَنَّةَ ))[15]

4. **حدیث** : (( اُكْتُبْ فَوَالَّذِیْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ فَوَالله لَنْ يَخْرُجُ مِنْهُ الَّاالْحَق )) نبي وئيلي دي عليه السلام ـ ( مخ ۱۴۸ )
بايزيد انصاري دغه حديث نقل کړے دے ـ دا حديث په ابوداؤد کښې په دې ټکو سره نقل دے : (( اُكْتُبْ فَوَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِيَدِهٖ مَا يَخْرُجُ مِنْهُ الَّا حَقٌّ ))[16]

5. **حدیث** : ((إنّ الله عَزَّ وَ جَلَّ إذَا خَلَقَ العَبْدَ لِلْجَنَّةِ اسْتَعْمَلَهُ بَعَمَلِ أهْلِ الْجَنَّةِ حَتّٰى يَمُوتَ عَلٰى عَمَلٍ منْ أعْمالِ أهلِ الجَنَّةِ فَيُدْخِلَه' بِهِ الْجَنَّة )) نبي وئيلي دي عليه وسلم ـ ( مخ ۱۵۵ )
دا حديث په سنن ابوداؤد او سنن ترمذي کښې روايت کړے شوے دے ـ[17]

6. **حدیث** : (( اِنَّ الله خَلَقَ آدَمَ عَلٰى صُوْرَتِهٖ)) نبي وئيلي دي عليه السلام ـ ( مخ ۱۵۷)
دا حديث په صحيح المسلم کښې روايت شوے دے ـ[18]

7. **حدیث** : (( افضل المؤ منين احسنهم خلقاً)) مخ ۱۲۷ ـ
بايزيد دا حديث راوړے دے ـ هم په دغه الفاظو جلال الدين سيوطي په جامع الصغير کښې نقل کړے دے[19] ـ امام سيوطي د ابنِ ماجه او مستدرک الحاکم حواله ورکړې ده ـ خو په ابن ماجه او مستدرک کښې ئې اصل الفاظ داسې دي:
فجاءه رجل من الانصار، فسلم على النبي ثم قال : يا رسول الله اي المؤمنين افضل؟ قال : (( احسنهم خُلُقاً ))[20] ـ

فجاء فتى من الانصار فسلم على رسول الله ثم جلس، فقال : يا رسول الله اي المؤمنين افضل؟ قال : (( احسنهم خُلُقاً ))[21]

مطلب ئې هم دغه دے۔ دغه حديث د حديثونو په نورو کتابونو کښې د الفاظو په لږ ډېر بدلون داسې راغلے دے :

(( افضل المؤ منين ايماناً احسنهم خُلُقاً ، و خيارکم خيارکم لنسائهم )) [22]

(( اکمل المؤمنين ايماناً احسنهم خلقا ، و خيارکم خيارکم لنسائهم خلقاً )) [23]

8. **حديث** : (( ان الدنيا حلوة خضرة و ان الله مستخلفکم فيها ، فناظر کيف تعلمون )) مخ ۱۲۹ ۔

دا حديث هم په دغه الفاظو سنن ترمذي[24] ۔ په صحيح المسلم کښې د (( فناظر )) په ځاے (( فَيَنْظُرُ )) ټکے راغلے ۔[25]

حديث : (( الکيس من دان نفسه و عمل لما بعد الموت ، والاحمق من اتبع نفسه هواها و تمنى على الله مغفرة )) مخ ۱۷۰ ۔

دا مشهور حديث دے ۔ خو دلته چې بايزيد کوم الفاظ راوړي په هغې کښې لږ ډېر د الفاظو فرق شته ۔ دا حديث د بايزيد نه وړاندې امام غزالي په خپلو درې کتابونو " احياء العلوم"، "ايهاالولد" او "بداية الهدايه" کښې راوړے دے ۔ احياء العلوم کښې ئې د *ذم الغرور و حقيقته و امثله* عنوان لاندې په مخ ۱۲۴۴ ، ۱۲۵۰ دوه ځايه راوړے چې د (( على الله )) نه پس ورپسې نور ټکي نشته ۔ هم په دغه کتاب کښې ئې بيا د *حقيقة الرجاء* عنوان لاندې صرف داسې راوړے دے : (( الاحمق من اتبع نفسه هواها و تمنى على الله الجنة)) [26] ۔

په بداية الهداية کښې ئې داسې راوړے : ((... و تمنى على الله الاماني )) [27]

په کتاب ايهاالولد کښې د (( على الله )) نه پس ورپسې نور ټکي نشته ۔ محقق ئې په حاشيه د اختلاف نسخ په باب ليکلي: "هکذا في ((س)) و هو موافق لنص الحديث ۔ و في ((ط)) زيادة: (الاماني) ۔ و في ((و)) : (المغفرة) ۔"[28]

محقق د څو نسخو نه دغه انتقادي متن تيار کړے دے ۔ په هغې کښې په يوه نسخه کښې (( الاماني)) او په بله کښې ((المغفره )) ټکي راغلي دي ۔ د دې نه علاوه احمد بن فهد حلبي (۸۴۱هـ) هم د بايزيد نه وړاندې داسې نقل کړے دے: (( الکيس دان

نفسه ...والاحمق والعاجز من ... المغفرة)) [29]
په سنن ترمذي او ابن ماجه کښې په دغه الفاظو نقل شوې دې : ((الکيس من دان نفسه و عمل لما بعد الموت ، والعاجز من اتبع نفسه هواها و تمنی علی الله)) [30]

9. **حديث** : (( الدين النصيحة قال ثلاث مرات: قيل لمن ؟ يا رسول الله : قال (( لله و لکتابه و لائمة المسلمين و عامتهم )) مخ ۱۷۰.
دا حديث په ترمذي کښې داسې راغلې دې : (( الدين النصيحة قال ثلاث مرار )) : قالو: يا رسول الله لمن ؟ : قال (( لله و لکتابه و لائمة المسلمين و عامتهم )) [31] - د حديثونو په ځينو کتابونو کښې (( مرات )) ټکې هم راغلې دې -
حديث : (( اذا مات ابن آدم انقطع عمله إلا من ثلاث صدقة جارية وعلم ينتفع به و ولد صالح يدعو له )) مخ ۱۷۵
دا حديث په ترمذي کښې نقل شوې دې - هلته د (( مات ابن آدم )) په ځاې (( مات الانسان )) ليکلي -[32]

10. **حديث** : ((من دل علی خير فله اجر فاعله )) مخ ۱۸۹ -
دا حديث په صحيح المسلم کښې هم په دغه الفاظو راغلې دې [33]

11. **حديث** : (( يبعث الله الناس يوم القيمة علی نياتهم و اعمالهم )) مخ ۱۹۱.
دا حديث په ابن ماجه کښې په دې الفاظو راغلې دې : (( يبعث الناس علی نياتهم )) [34]

12. **حديث** : (( الصوم لي وانا اجزی به)) مخ ۲۱۰.
دا حديث په بخاري کښې هم په دغه الفاظو ليکلې دې -[35]

13. **حديث** : (( بني الاسلام علی خمسة اشياء شهادة ان لااله الاالله و اقام الصلوة و ايتاء الزکاة و صوم شهر رمضان و حج البيت من استطاع اليه سبيلا )) مخ ۲۱۱ -
دا حديث په بخاري کښې په دې الفاظو نقل شوې دې: (( بني الاسلام علی خمس: شهادة ان لااله الاالله و ان محمدا رسول الله و اقام الصلوة ، و ايتاء الزکاة، والحج، و صوم رمضان ))[36]

14. **حدیث**: ((انما انا لکم مثل الوالد فاذا اتیتم الغائط فلا تسقبلوا القبلة و لا تستدبروها)) مخ ۲۱۵ ۔
دا حدیث په مسند احمد کښې داسې راغلے چې د (( فاذا )) په ځاے ((...اذا ..)) [37] ۔ لیکلي ۔البته سنن ابي داؤد کښې په دې الفاظو روایت شوے دے : ((انما انا لکم بمنزلة الوالد اعلمکم،فاذا اتی احدکم الغائط فلا یستقبل القبلة، ولا یستدبرها ،و لا یستطب بیمینه)) [38]
په سنن ابن ماجه کښې د الفاظو په لږ بدلون داسې لیکلے : ((انما انا لکم مثل الوالد لولده اعلمکم ، اذا اتیم الغائط فلا تسقبلوا القبلة و لاتستدبروها )) [39]

15. **حدیث**: ((والله طیب لا یقبل الا الطیب )) مخ ۲۱۵ ۔
دا حدیث په صحیح المسلم کښې روایت شوے دے ۔اصل الفاظ ئې داسې دي: (( ایها الناس ان الله طیب لا یقبل الا طیباً )) [40]
حدیث : ((الطهور شطر الایمان)) مخ ۲۱۲ ۔
دا حدیث په صحیح المسلم کښې راغلے دے [41]

16. **حدیث**: ((خدمة الشیخ کانت کالمجاهد فی سبیل الله تعالی اوکالذی کان قائما باللیل و صائماً فی النهار )) مخ ۲۲۳ ۔
دا حدیث په بخاري کښې راغلے دے ۔اصل الفاظ ئې داسې دي:
(( الساعي علی الارملة والمسکین کالمجاهد في سبیل الله اوکالذي یصوم النهار و یقوم اللیل )) [42]
په بخاري کښې په بل ځاے د ابوهریره ﷜ نه په دغه الفاظو هم روایت شوے دے :
((الساعي علی الارملة والمسکین کالمجاهد في سبیل الله اوالقائم اللیل،الصائم النهار)) [43]

**17.** **حدیث**: ((لاصلوة لمن لاوضوء له [و لاوضوء] لمن لم یذکر اسم الله علیه )) مخ ۲۲۵
دا حدیث په سنن ابن ماجه کښې روایت دے [44]

18. **حدیث**: ((وظیفة الوضوء مرة فمن توضاء مرتین کان له کفلان من الاجر ومن توضاء ثلث فهو وضوئي ووضوء الانبیاء من قبل )) مخ ۲۲۵ ۔

په سنن ابن ماجه کښې د د ې حديث اصل الفاظ داسې راغلي: (( هذا وظيفة الوضوء )) او قال : (( وضوء من لم يتوضاه لم يقبل الله له صلاة )) ثم توضاء مرتين مرتين ، ثم قال: (( هذا وضوء من توضاه اعطاه الله كفلين من الاجر)) ثم توضا ثلاثا ثلاثا ، فقال : (( هذا وضوئي و وضوءُ المرسلين قبلي )) [45]

19. **حديث** : ((لا يقبل الله صلوة احدكم اذا احدث حتى يتوضاء لاصلوة لمن لاوضوء له [ و لاوضوء] لمن لم يذكر اسم الله عليه )) مخ ۲۲۲ .
بايزيد انصاري دلته دوه حديثونه يو ځاے راوړي دي ۔ وړومبے حديث د صحيح البخاري حديث دے : ((لا يقبل الله صلوة احدكم اذا احدث حتى يتوضاء )) [46]
دوېم حديث سنن ابن ماجه کښې نقل شوے ۔ دلته حديث نمبر ۲۰ کښې ئې حواله ورکړې شوې ده ۔

20. **حديث** : (( من توضا على طهر كتب الله له عشر حسنات )) مخ ۲۲۲ .
دا حديث په سنن ابي داؤد کښې داسې راغلے دے: (( من توضا على طهر كتب له عشر حسنات )) [47]

21. **حديث** : (( تحت كل شعرة جنابة )) مخ ۲۲۸ .
دا حديث په سنن ترمذي او سنن ابي داؤد کښې داسې راغلے دے: ((تحت كل شعرة جنابة فاغسلوا الشعر وانقوا البشر )) [48]

22. **حديث** : (( الاعمال بالنيات )) مخ ۲۳۰ .
دا مشهور حديث دے ۔ د حديثونو په ډېرو کتابونو کښې روايت شوے دے ۔ د صحيح البخاري وړومبے حديث دے ۔ [49]

23. **حديث** : (( الاحسان ان تعبد الله كانك تراه فان لم تكن تراه فانه يراک )) مخ ۲۴۲ .
دا حديث په صحيح البخاري او صحيح المسلم دواړو کښې راغلے دے ۔ اوږد حديث دے ۔ دا برخه په کښې داسې ليکلې ده: ما الاحسان ؟ قال : (( ان تعبد الله كانک تراه، فان لم تكن تراه فانه يراک )) [50]

24. **حديث** : ((لا تجزي صلاة لا يقيم الرجل فيها صلبه فى الركوع والسجود )) مخ ۲۵۹

په سنن ترمذي کښې د دې حديث د الفاظو ترتيب داسې دے: ((لاتجزيءُ صلاة لا يقيم فيها الرجل صلبه فی الرکوع والسجودِ ))[51]

25. **حديث**: ((اذا قمت إلی الصلاة فأسبغ الوضوء باستکمال الفرائض ثم استقبل القبلة فکبر ثم اقرأ ما تيسر من القرآن ثم ارکع حتی تطمئن راکعا ثم ارفع حتی تستوي قائما ثم افعل ذلك في صلاتك کلها)) مخ ۲۲۰.

دا د بخاري حديث دے. اصل الفاظ ئې داسې دي: ((إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغْ الْوُضُوءَ، ثُمَّ اسْتَقْبِلْ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ، ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَسْتَوِيَ قَائِمًا ، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَا ))[52]

26. **حديث**: ((فصلوا کما رايتموني اصلي)) مخ ۲۲۱.

دا د صحيح البخاري د يو اوږد حديث برخه ده: د ((فصلوا)) په ځاے ((و صلوا)) ليکلي.[53]

27. **حديث**: ((الدعا هو العبادة ، الدعا مخ العبادة)) مخ ۲۲۳.

دا د ترمذي بيل بيل حديثونه دي. دواړه په يو مخ بيل بيل داسې روايت شوي دي: ((الدعا مخ العبادة))[54] ، ((الدعا هو العبادة))[55]

28. **حديث**: ((من صلي اثنی عشر رکعات تطوعا بني له بنيان فی الجنة رکعتين قبل الفجر و اربعا قبل الظهر و رکعتين بعدها و رکعتين بعد المغرب و رکعتين بعد العشاء)) مخ ۲۲۷.

دا حديث په سنن ترمذي داسې روايت شوے دے: ((من صلی فی يوم و ليلة ثنتی عشرة رکعة بنی له بيت فی الجنة: اربعا قبل الظهر و رکعتين بعدها ، و رکعتين بعد المغرب، و رکعتين بعد العشاء ، و رکعتين قبل صلاة الفجر الغداة))[56]

29. **حديث**: ((ان الله امر المؤمنين بما امر به المرسلين)) مخ ۲۸۳.

دا حديث د صحيح المسلم د يو حديث برخه ده[57]

حديث: ((للصائم فرحتان فرحة عند الافطار و فرحة عند لقاءي )) مخ ۲۹۳.

دا د صحیح المسلم حدیث دے ۔ الفاظ ئې داسې دي: (( للصائم فرحتان: فرحة عند فطره ، و فرحة عند لقاء ربه )) [58]

30. **حدیث** : (( الصوم جنة من النار کجنة احدکم من القتال )) مخ ۲۹۲۔
دا حدیث د حدیثونو په مختلفو کتابونو کښې روایت کړے شوے دے ۔ په سنن ابن ماجه کښې ئې الفاظ داسې راغلي: (( الصیام جنة من النار کجنة احدکم من القتال)) [59]

31. **حدیث** : (( اذا دخل رمضان فتحت ابواب الجنة و غلقت ابواب النار و صفدت مردة الشیاطین )) مخ ۳۰۱۔

دا حدیث په سنن نسائي کښې داسې نقل شوے: (( اذا دخل شهر رمضان فتحت ابواب الجنة و غلقت ابواب النار و صفدت الشیاطین )) [60]

حدیث: (( صفحت صفائح من نار فاحمي علیها في نار جهنم فتکوی بها جباههم و جنوبهم و ظهورهم کلما بردت اعیدت له في یوم کان مقداره خمسین الف سنة حتی یقضی بین العباد فیری سبیله اما الی الجنة و اما الی النار )) مخ ۳۰۵ ۔

دا د صحیح السلم حدیث دے ۔ اصل الفاظ ئې داسې دي: (( مَا مِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلاَ فِضَّةٍ لاَ يُؤَدِّى مِنْهَا حَقَّهَا إِلاَّ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ صُفِّحَتْ لَهُ صَفَائِحَ مِنْ نَارٍ فَأُحْمِىَ عَلَيْهَا فِى نَارِ جَهَنَّمَ فَيُكْوَى بِهَا جَنْبُهُ وَجَبِينُهُ وَظَهْرُهُ كُلَّمَا بَرَدَتْ أُعِيدَتْ لَهُ فِى يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيُرَى سَبِيلُهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ )) [61]

32. **حدیث** : (( ما من رجل یکون له ابل او بقر او غنم لا یؤدي منها حقها الا اتي یوم القیامة اعظم ما یکون واسمنه یطاء باخفا فها و تنطحه بقرونها کلما جازت علیه اخرها ردت علیه اولیها حتی یقضی بین الناس )) مخ ۳۱۰ ۔
دا د صحیح البخاري حدیث دے ۔ اصل الفاظ ئې داسې دي: (( مَا مِنْ رَجُلٍ تَكُونُ لَهُ إِبِلٌ أَوْ بَقَرٌ أَوْ غَنَمٌ لَا يُؤَدِّي حَقَّهَا إِلَّا أُتِيَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْظَمَ مَا تَكُونُ وَأَسْمَنَهُ تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا كُلَّمَا جَازَتْ أُخْرَاهَا رُدَّتْ عَلَيْهِ أُولَاهَا حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ )) [62]

33. **حدیث** : (( من اته الله مالا فلم یؤد زکوته مثل ما له یوم القیامة شجاعا اقرع له زبیبتان یطوقه ثم یاخذه بلهزمتیه ثم یقول انا مالک و انا کنزک )) مخ ۳۱۰ ۔

دا د صحيح البخاري حديث دے۔ اصل الفاظ ئې داسې دي: (( مَنْ آتَاهُ اللَّهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ لَهُ زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَيْهِ يَعْنِي شِدْقَيْهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ )) [63]

34. **حديث** : عن عبد الله بن عمر رضي الله عنه قال خرج رسول الله ﷺ (( للذي في شماله هذا كتاب من رب العلمين فيه اسماء اهل النار و اسماء ابائهم و قبائلهم ثم اجعل على اخراهم فلا يزداد فيهم و لا ينقص منهم ابدا )) مخ ۳۲۰۔

په سنن ترمذي کښې دا حديث په دې ټکو نقل شوے دے: عن عبد الله بن عمرو بن العاص قال خرج علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفي يده كتابان فقال (( أتدرون ما هذان الكتابان )) ؟ فقلنا لا يا رسول الله إلا أن تخبرنا، فقال للذي في يده اليمنى (( هذا كتاب من رب العالمين فيه أسماء أهل الجنة وأسماء آبائهم وقبائلهم ثم أجمل على آخرهم فلا يزاد فيهم ولا ينقص منهم أبدا )) ثم قال للذي في شماله: (( هذا كتاب من رب العالمين فيه أسماء أهل النار وأسماء آبائهم وقبائلهم ثم أجمل على آخرهم فلا يزاد فيهم ولا ينقص منهم أبدا )) فقال أصحابه ففيم العمل يا رسول الله إن كان أمر قد فرغ منه؟ فقال: (( سددوا وقاربوا فإن صاحب الجنة يختم له بعمل أهل الجنة وإن عمل أي عمل وإن صاحب النار يختم له بعمل أهل النار وإن عمل أي عمل )) ثم قال رسول الله صلى الله عليه وسلم بيديه فنبذهما ثم قال (( فرغ ربكم من العباد فريق في الجنة وفريق في السعير )) [64]

35. **حديث** : (( لا يدخل فى الجنة من كان فى قلبه حبة من الكبر )) مخ ۳۲۷۔

دا حديث په صحيح المسلم او سنن ابي داؤد کښې راغلے دے: (( لا يدخل فى الجنة من كان فى قلبه مثقال حبة من خردل من كبر )) [65]

36. **حديث** : (( الايمان قيد الفتک من غير رجالا عن دمه فقتل انا برئ من القاتل و ان كان المقتول كافرا )) مخ ۳۲۸۔

بايزيد انصاري دوه حديثونه يو ځاے کړي دي۔

ورومبے په سنن ابي داؤد کښې روايت شوے دے: (( الايمان قيد الفتک، لا يفتک مؤمن )) [66]

دويم په مختلفو کتابونو کښې راغلے دے: (( من امن رجلا على دمه فقتله فانا برئ من القاتل و ان كان المقتول كافرا )) [67]

37. **حديث** : (( ان الحسد ياكل العمل كما تاكل النار الخطب )) مخ ۳۳۰ ۔
دا حديث په سنن ابو داؤد کښې راغلے دے: (( اياكم والحسد فان الحسد ياكل الحسنات كما تاكل النار الحطب او قال العشب )) [68]

38. **حديث** : عن عبدالله بن عمر ﷺ قال خرج رسول الله ﷺ (( في يده كتابان : فقال والذي بيده نفسي هذا كتاب من رب العلمين فيه اسماء اهل الجنة و اسماء ابائهم و قبائلهم ثم اجعل على اخراهم فلا يزاد فيهم و لا ينقص منهم ابدا )) مخ ۳۳۷ ۔

دا د سنن ترمذي حديث دے ۔ دلته ئې د دې مقالې حديث نمبر ۳۸ کښې وضاحت شوے دے ۔

39. **حديث** : (( ان الله تعالى اذا خلق العبد للجنة استعمله العمل اهل الجنة حتى يموت على عمل من اعمال اهل الجنة فيدخله به الجنة )) مخ ۳۳۷ ۔
دا حديث په سنن ترمذي او سنن ابي داؤد کښې او د حديثونو په نورو مختلفو کتابونو کښې روايت شوے دے: (( ان الله تعالى اذا خلق العبد للجنة استعمله العمل اهل الجنة حتى يموت على عمل من اعمال اهل الجنة فيدخله به الجنة ، واذا خلق العبد للنار استعمله بعمل اهل النار ، حتى يموت على عمل من اعمال اهل النار ، فيدخله به النار )) [69]
په سنن ترمذي کښې (( فيدخله الجنة)) او (( فيدخله الله النار)) [70] الفاظ روايت شوي ۔
حديث : (( البر حسن الخلق )) مخ ۳۴۲ ۔
دا حديث په دغه الفاظو صحيح المسلم کښې نقل شوے ۔[71]

40. **حديث** : (( الايمان معرفة بالقلب و اقرار باللسان و عمل باركان )) مخ ۳۵۲ ۔
دا حديث په سنن ابن ماجه ليکلے ۔ الفاظ ئې داسې روايت شوي دي : ((الايمان معرفة بالقلب و قول باللسان و عمل بالاركان )) [72]

41. **حديث** : (( قالوا وما الطريق قال غض البصر و كف الاذى و رد السلام والامر بالمعروف والنهى عن المنكر )) مخ ۳۵۹ ۔

دا حدیث په صحیح البخاري کښې روایت شوے : قالوا: وما حق الطریق؟ قال: ((غض البصرِ، و کف الاذی، و ردالسلام، وامر بالمعروف و نهی عن المنکر)) [73]

42. **حدیث** : ((من اعطا الله ومنع الله و احب الله والبغض للله فقد استکمل ایمانه)) مخ ۳۲۱ .

دا حدیث په سنن ابي داؤد کښې داسې روایت شوے دے : ((من احب لله و ابغض لله و اعطی لله و منع لله فقداستکمل الایمان)) [74]

43. **حدیث** : ((المسلم من سلم المسلمون من یده و لسانه والمؤمن من امنه الناس علی دمائهم و اموالهم و المجاهد من جاهد نفسه فی طاعة الله)) مخ ۳۲۱ .

دا حدیث په سنن ترمذي کښې داسې روایت شوے دے : ((المسلم من سلم المسلمون من لسانه و یده ، والمؤمن من امنه الناس علی دمائهم و اموالهم)) [75] په مسند احمد کښې داسې روایت شوے: ((الااخبرکم بالمؤمن؟ من امنه الناس علی اموالهم و انفسهم، والمسلم من سلم المسلمون من لسانه و یده ، والمجاهد من جاهد نفسه في طاعة الله، والمهاجر من هجر الخطایا والذنوب)) [76]

حدیث : ((ایة المنافق اربعة و ان صام و صلی و زعم انه مسلم اذا حدث کذب و اذا وعد اخلف واذا ائتمن خان واذا خاصم فجر)) مخ ۳۲۵ .

دا حدیث مې دې الفاظو ((آیة المنافق اربعة)) سره پیدا نۀ کړے شو ـ البته دا حدیث په صحیح البخاري او صحیح المسلم کښې په درې طریقو روایت شوے دے

یو : عن ابي هریرةﷺ عن النبي ﷺ قال: ((آیة المنافق ثلاث ، اذا حدث کذب و اذا وعد اَخْلَفَ واذا اُؤْتُمِنَ خان)) [77]

دویم : ((آیة المنافق ثَلاث ، وان صلی و صام و زعم انه مسلم)) [78]

دریم : عن عبدالله بن عمرو ان النبيﷺ قال: ((اربع من کن فیه کان منافقا خالصا ، ومن کانت فیه خصلة منهن کانت فیه خصلة من النفاق حتی یدعها : اذا اؤتمن خان، واذا حدث کذب ، واذا عاهد غدر، واذا خاصم فجر)) [79]

عن عبدالله بن عمرو ان النبي ﷺ قال: ((اربع من كن فيه كان منافقا خالصا ،ومن كانت فيه خَلة منهن كانت فيه خَلة من النفاق حتى يدعها: اذا حدث كذب،و اذا عاهد غدر، واذا وعد اخلف، و اذا خاصم فجر)) [80]

44. **حديث**: ((الهم احييني مسكينا و امتني مسكينا وحشرلي في زمرة المساكين )) مخ ۳۷۳ .

دا حديث په سنن ترمذي او سنن ابن ماجه کښې روايت شوے دے[81]

## حوالې

[1] . اخون درويزه، تذکرة الابرار والاشرار ،بفرمائش: عبدالخالق خليق،طبع: منظورعام پرېس پېښور، شايع کرده: اداره اشاعت سرحد ، پېښور ،ماه شعبان ۱۳۷۹هـ مطابق فروري ۱۹۲۰ء، مخ ۱۴۸ .

[2] . بـدايوني، عبـدالقادر ،ملا ،منتخب التـواريخ، جلـد دوم ،بـه تصـحيح: مولـوي احمـدعلي صاحب،بامقدمه و اضافات:توفيق هـ. سبحاني، انجمن اثار و مفاخر فرهنگي،تهران،چاپ اول ۱۳۸۰، مخ ۲۴۳ .

[3] . اخون درويزه، تذکرة الابرار والاشرار ،بفرمائش: عبدالخالق خليق،طبع: منظورعام پرېس پېښور، شايع کرده: اداره اشاعت سرحد ، پېښور ،ماه شعبان ۱۳۷۹هـ مطابق فروري ۱۹۲۰ء، مخ ۱۴۸ .

[4] . کاکاخېل، تقويم الحق،سېد ،مقدمه مشموله مخزن، تصنيف: اخوند درويزه بابا ،پښتواکېډيمي پېښور يونيورسټي،دويم چاپ ۱۹۸۷ء،مخ لج .

[5] . افتـاب اصغر ، دکتر ،تـاريخ نويسـي فارسـي در هنـد و پاکسـتان ( تيموريـان بـزرگ از بـابر تـا اورنگزېب ۹۳۲ ـ ۱۱۱۸ هـ ق)،خانه فرهنگ جمهوري اسلامي ايران، لاهور ، پاکستان، چاپخانه سيد سنز،آذرماه ۱۳۶۴ هـ ش، مخ ۳۲۹ .

[6] . بهکري،شـــيخ فريـــد ،ذخيرة الخوانين،جلـــد دوم، مقدمـــه، تصـــحيح و حواشـــي: معـــين الحق،هسټاريکل سوسائټي،کراچي، ۱۹۷۰ء، مخ۲۲۳.

[7] . موبد ،کېخسرو اسفنديار ، دبستان مذاهب،مجلد اول ( متن)،باهتمام: رحيم رضا زاده ملـک، تهران،چاپ اول۱۳۲۲ ،مخ ۲۸۳ .

[8] . ملک،رحيم رضا زاده،تعليقات دبستان مذاهب ( دبستان مذاهب،جلد دوم، تعليقات، پاهتمام: رحيم رضا زاده ملک، تهران،چاپ اول۱۳۲۲ ،مخ ۲۰ .

[9] . ملک،رحيم رضا زاده،تعليقات دبستان مذاهب ( دبستان مذاهب،جلد دوم، تعليقات، پاهتمام: رحيم رضا زاده ملک، تهران،چاپ اول۱۳۲۲ ،مخ ۲۰ .

[10] . زلمے،هيواد مل، د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې، د افغانستان علومو اکاډمي، د ژبـو او ادبياتو مرکز، پښتو ټولنه،کابل،۱۳۶۳ ،مخ ۹ .

[11] . رفيع، حبيب الله،روښاني ليکنې، ارزاني پښتو ادبي ټولنه خويشکي( نوښار)، ۱۹۸۹ء مخ ۱۹ .

[12] . ابي نعيم، احمد بن عبدالله، کتاب تاريخ اصبهان( ذکر اخبار اصبهان)، جز ثـاني، تحقيـق سيد کسروي حسن، دارالکتب العلميه، بيروت، لبنان، طبعه اولی، ۱۴۱۰هـ/ ۱۹۹۰م،مخ ۲۸۵.

[13] . بخاری،محمدبن اسماعيل،صحيح البخاري،تحقيق: خليل مامون شيخا ،دارالمعرفه،بيروت لبنان،طبعه اولی ۲۰۰۴ء \ ۱۴۲۵هـ، حديث نمبر ۱۲۴ ،مخ۱۱۷ .

[14] . ابــي الحسين،مســـلم بـــن الحجاج،القشيري،النيسابوري(نيشـــاپوري)،امام،حافظ، صـــحيح المســـلم، اعتنٰـــى بـــه،ابوصـــهيب الكرمـــي، بيـــت الافكـــار الدوليه،للنشـــر والتوزيع،رياض،سعودي،۱۴۱۹ھ/۱۹۹۸م،حديث نمبر ۴۸۲،مخ۲۰۱ ـ

[15] . الف: بخاری،محمدبن اسماعيل،صحيح البخاري،تحقيق: خليل مامون شيخا بخاری،حديث نمبر۲۳۸۴،مخ۱۵۷۳ ـ

ب: ترمذی،محمد بن عيسی،سنن ترمذی،تحقيق:خليل مامون شيخا،دارالمعرفه، بيروت، لبنان ، ۲۰۰۲ء\ ۱۴۲۳ھ،حديث نمبر۳۲۰۱،مخ۱۳۷۹ ـ

[16] . ابوداؤد ،سليمان ابن اشعث،سنن ابي داؤد ،المجلد الثاني،الجزالثالث،تحقيق وحواشيه: محمدمحي الدين عبد الحميد ،داراحياالتراث العربی،بيروت لبنان،چاپ کال نهٔ لري،حديث نمبر۳۶۴۲،مخ۳۱۸ ـ

[17] . الف: ابوداؤد ،سليمان ابن اشعث،سنن ابي داؤد ، مجلد ۲،جز۴،حديث ۴۷۰۳،مخونه ۲۲۶، ۲۲۷ـ

ب: ترمذي، محمد بن عيسی، سنن ترمذي،حديث۳۰۷۵،مخ۱۱۸۲ ـ

[18] . ابــي الحسين،مســـلم بـــن الحجاج،القشيري،النيسابوري(نيشـــاپوري)،امام،حافظ، صـــحيح المسلم،حديث۲۲۱۲،مخ۱۰۵۰ـ

[19] . سيوطي،جلال الدين، الفتح الکبير في ضم الزيادة الی الجامع الصغير،جلد ۱،دارالکتاب العربي،چاپ کال نهٔ لري،مخ۲۱۲ ـ

[20] . ابـــنِ ماجـــه،ابي عبدالله،محمـــدبن يزيدالقزويني،سُـــننِ ابـــنِ ماجـــه،داراحياالتراث العربي،بيروت،لبنان، ۱۴۲۱ھ\ ۲۰۰۰ء،حديث ۴۲۵۹،مخ ۷۲۷ـ

[21] . حاکم نيساپوري،محمدبن عبدالله، المستدرک علی الصحيحين ،جلد۴، دراسه و تحقيق: مصطفی عبدالقادر عطا،دارالکتب العلميه،۱۴۲۲ھ/۲۰۰۲م،حديث ۸۲۲۳،مخ ۵۸۳ـ

[22] . ابي يعلی، احمد بن علي،الموصيلي، مسندابي يعلي الموصيلي،مجلد ۵، تحقيق وتعليق: ارشادالحق الاثري، موسسه علوم القرآن، ۱۴۰۸ھ/ ۱۹۸۸م،حديث ۵۹۰۰، مخ ۳۵۲ـ

[23] . ترمــذی عيسٰــی،محمد بـــن عيسی،ســـنن ترمـــذی،تحقيق:خليل مـــامون شـــيخا ،حديث نمبـــر ۱۱۲۲،مخ ۴۹۰ـ

[24] . ترمــذی عيسٰــی،محمد بـــن عيسی،ســـنن ترمـــذی،تحقيق:خليل مـــامون شـــيخا ،حديث نمبـــر ۲۱۹۱،مخ ۸۷۲ـ

[25] . ابــي الحسين،مســـلم بـــن الحجاج،القشيري،النيسابوري(نيشـــاپوري)،امام،حافظ، صـــحيح المسلم،مخ ۱۰۹۲ ـ

26 . غزالي،محمد ،امام،احیاءعلوم الدین وبذیله کتاب المغیني عن حمل الاسفارفي الاسفارفي تخریج ما في الاحیاء من الاسفار، جلد ۲، للعلامة عبدالرحیم بن حسین العراقی (المتوفی ۸۰۲هـ)،دارالمعرفة،بیروت لبنان،اول چاپ ۱۴۲۵هـ\۲۰۰۴ء،مخ ۱۴۳۲.

27 . غزالي، محمد، امام، بدایة الهدایه،تحقیق: انس محمد عدنان شرفاوي او د دۀ ملګري، دارالمنهاج للنشر والتوضیع، جده، ۱۴۲۵هـ/ ۲۰۰۴ء، مخ ۲۰۵.

28 . غزالي، محمد، امام،ایهاالولد ،حققها وعلق علیها و قدمها بمبحث عن اداب المتعلم و العالم، علي محي الدین علي القره داغي،شرکه دارالبشائر الاسلامیه،بیروت،لبنان،طبعه رابعه، ۱۴۳۱هـ/ ۲۰۱۰م، مخ ۱۰۴.

29 . حلبي، احمدبن فهد، عدة الداعي و نجاح الساعي، تصحیح و تعلیق: احمد الموحدي القمي، دارالکتب الاسلامي، ۱۴۰۷هـ/۱۹۸۷ء، مخ۳۴.

30 . الف: ترمذی عیسٰی،محمد بن عیسی،سنن ترمذی،تحقیق:خلیل مامون شیخا،حدیث ۲۴۵۹،مخ ۹۲۴.

ب: ابنِ ماجه،ابي عبدالله،محمدبن یزیدالقزویني،سُننِ ابنِ ماجه،حدیث ۴۲۲۰،مخ ۷۲۷.

31 . ترمذی عیسٰی،محمد بن عیسی،سنن ترمذی،تحقیق:خلیل مامون شیخا،حدیث ۱۹۲۲،مخ ۷۷۸.

32 . ترمذی عیسٰی،محمد بن عیسی،سنن ترمذی،تحقیق:خلیل مامون شیخا،حدیث ۱۳۷۲،مخ ۵۷۸.

33 . ابي الحسین،مسلم بن الحجاج،القشیري،النیسابوري(نیشاپوري)،امام،حافظ، صحیح المسلم،مخ ۷۸۷.

34 . ابنِ ماجه،ابي عبدالله،محمدبن یزیدالقزویني،سُننِ ابنِ ماجه،حدیث نمبر ۴۲۲۹،مخ ۷۲۲.

35 . بخاری،محمدبن اسماعیل،صحیح البخاري،تحقیق: خلیل مامون شیخا بخاری،حدیث نمبر۷۴۹۲، مخ ۱۸۰۲.

36 . بخاری،محمدبن اسماعیل،صحیح البخاري،تحقیق: خلیل مامون شیخا بخاری،حدیث نمبر۸، مخ ۷۲.

37 . احمد بن حنبل، امام، مسنداحمد ،جلد ۱۲،تخریج و تعلیق: شعیب الارنؤوط و عادل مرشد، موسسه الرسالة،بیروت،لبنان،طبعه اولی ۱۴۱۷هـ/ ۱۹۹۷م،حدیث ۷۳۲۸،مخ۳۲۲.

38 . ابوداؤد ،سلیمان ابن اشعث،سنن ابي داؤد، مجلد ۱ ،جز ۱، حدیث ۸،مخ ۳.

39 . ابنِ ماجه،ابي عبدالله،محمدبن یزیدالقزویني،سنن ابن ماجه،حدیث ۳۱۳،مخ۲۲.

40 . ابي الحسین،مسلم بن الحجاج،القشیري،النیسابوري(نیشاپوري)،امام،حافظ، صحیح المسلم،مخ ۳۱۹.

[41] . ابـي الحسين،مسـلم بـن الحجاج،القشيري،النيسابوري(نيشـاپوري)،امام،حافظ، صـحيح المسلم،مخ ۱۱۹ .

[42] . بخاری،محمدبن اسماعیل،صحیح البخاري،تحقیق: خلیل مامون شیخا ،حدیث ۲۰۰۲ ،مخ ۱۴۹۸.

[43] . بخاری،محمدبن اسماعیل،صحیح البخاري،تحقیق: خلیل مامون شیخا ،حدیث **۵۳۵۳**، مخ۱۳۷۲.

[44] . ابنِ ماجه،ابي عبدالله،محمدبن یزیدالقزویني،سنن ابن ماجه،حدیث **۳۹۸**،مخ**۷۵** .

[45] . ابنِ ماجه،ابي عبدالله،محمدبن یزیدالقزویني،سُنن ابنِ ماجه،حدیث **۴۲۰**،مخ **۷۸**.

[46] . بخاری،محمدبن اسماعیل،صحیح البخاري،تحقیق: خلیل مامون شیخا ،حدیث **۲۹۵۴**، مخ ۱۲۹۳.

[47] . ابوداؤد ،سلیمان ابن اشعث،سنن ابي داؤد ، مجلد ۱ ،جز۱ ، حدیث ۲۲ ،مخ ۱۲ .

[48] . الف: ترمذی عیسٰی،محمد بن عیسی،سنن ترمذی،تحقیق:خلیل مامون شیخا ، حدیث نمبر۲۰۱ ،مخ **۲۳**.

ب: ابوداؤد ،سلیمان ابن اشعث،سنن ابي داؤد ، مجلد ۱ ،جز۱ ،حدیث **۲۴۸** ،مخ**۲۵** .

[49] . بخاری،محمدبن اسماعیل،صحیح البخاري،تحقیق: خلیل مامون شیخا ،حدیث ۱ ،مخ**۲۵** .

[50] . الف: بخاری،محمدبن اسماعیل،صحیح البخاري،تحقیق: خلیل مامون شیخا ،حدیث **۵۰**،مخ **۸۴**.

ب: ابـي الحسين،مسـلم بـن الحجاج،القشيري،النيسابوري(نيشـاپوري)،امام،حافظ، صـحيح المسلم،مخ ۱۰۲ .

[51] . ترمذی عیسٰی،محمد بن عیسی،سنن ترمذی،تحقیق:خلیل مامون شیخا ،حدیث **۲۲۵** ،مخ **۱۳۴** .

[52] . بخاری،محمدبن اسماعیل،صحیح البخاري،تحقیق: خلیل مامون شیخا ، حدیث **۲۲۵۱** ،مخ**۱۵۴۲**.

[53] . بخاری،محمدبن اسماعیل،صحیح البخاري،تحقیق: خلیل مامون شیخا ، حدیث ۲۰۰۸ ،مخ۱۴۹۹ .

[54] . ترمذی عیسٰی،محمد بن عیسی،سنن ترمذی،تحقیق:خلیل مامون شیخا،حدیث۳۳۷۱ ،مخ ۱۳۰۰.

[55] . ترمذی عیسٰی،محمد بن عیسی،سنن ترمذی،تحقیق:خلیل مامون شیخا ،حدیث ۳۳۷۲ ،مخ ۱۳۰۰.

[56] . ترمذی عیسٰی،محمد بن عیسی،سنن ترمذی،تحقیق:خلیل مامون شیخا ،حدیث**۴۱۵**،مخ ۲۰۰ .

57 . ابـي الحسین، مسـلم بـن الحجاج، القشیري، النیسابوري(نیشـاپوري)، امام، حافظ، صـحیح المسلم، حدیث ۱۰۱۵، مخ ۳۹۱ .

58 . ابـي الحسین، مسـلم بـن الحجاج، القشیري، النیسابوري(نیشـاپوري)، امام، حافظ، صـحیح المسلم، حدیث ۱۱۵۱، مخ ۴۴۴ .

59 . ابنِ ماجه، ابي عبدالله، محمدبن یزیدالقزویني، سنن ابن ماجه، حدیث ۱۲۳۹، مخ ۲۷۲ .

60 . النسائي، احمد، ابو عبدالرحمان، سنن نسائي بشرح الحافظ جلال الدین السیوطي، دار احیاء التراث العربي، بیروت، لبنان، ۱۴۲۱ه/ ۲۰۰۱م، حدیث ۲۰۹۲، مخ ۳۲۳ .

61 . ابـي الحسین، مسـلم بـن الحجاج، القشیري، النیسابوري(نیشـاپوري)، امام، حافظ، صـحیح المسلم، حدیث ۹۸۷، مخ ۳۸۱ .

62 . بخاری، محمـد بن اسـماعیل، صـحیح البخـاري، تحقیـق: خلیـل مـامون شـیخا، حدیث ۱۴۲۰، مخ۴۰۷ .

63 . بخاری، محمـد بن اسـماعیل، صـحیح البخـاري، تحقیـق: خلیـل مـامون شـیخا، حدیث ۱۴۰۳، مخ۳۹۳ .

64 . ترمذی عیسیٰ، محمد بن عیسی، سنن ترمذی، تحقیق: خلیل مامون شیخا، حدیث ۲۱۴۱مخ ۸۵۳ .

65 . الف: ابي الحسین، مسلم بن الحجاج، القشیري، النیسابوري(نیشاپوري)، امام، حافظ، صحیح المسلم، حدیث ۹۱، مخ ۷۴ .

ب: ابوداؤد، سلیمان ابن اشعث، سنن ابي داؤد، مجلد ۲، جز۴، حدیث ۴۰۹۱، مخ۵۹ .

66 . ابوداؤد، سلیمان ابن اشعث، سنن ابي داؤد، مجلد ۲، جز۳، حدیث ۲۷۲۹، مخ۸۷ .

67 . الـف: الطبرانـي، سـلیمان بـن احمـد، المعجم الاوسـط، جلد۴، تحقیـق: طـارق بـن عـوض الله و عبدالمحسـن بـن ابـراهیم، دارالحـرمین، للطباعـة وانشـر والتوزیـع، ۱۴۱۵هـ/ ۱۹۹۵م، حدیث۴۲۵۲، مخ ۲۹۸ .

ب: سیوطي، جلال الـدین، الفتح الکبیـر فـي ضـم الزیـادة الـی جـامع الصـغیر، جلد۳، دارالکتـب العلمیه، بیروت، لبنان، چاپ کال نۀ لري، مخ ۱۷۲ .

68 . ابوداؤد، سلیمان ابن اشعث، سنن ابي داؤد، مجلد ۲، جز۴، حدیث ۴۹۰۳، مخ ۲۷۲ .

69 . ابوداؤد، سلیمان ابن اشعث، سنن ابي داؤد، مجلد ۲، جز۴، حدیث۴۷۰۳، مخ۲۲۷ .

70 . ترمذی عیسیٰ، محمد بن عیسی، سنن ترمذی، حدیث نمبر ۳۰۷۵، مخ۱۱۸۲ .

71 . ابـي الحسین، مسـلم بـن الحجاج، القشیري، النیسابوري(نیشاپوري)، امام، حافظ، صـحیح المسلم، حدیث ۲۵۵۳، مخ۱۰۳۲ .

[72]. ابنِ ماجه،ابي عبدالله،محمدبن يزيدالقزويني،سنن ابن ماجه،حديث **۲۵**،مخ۲۲ ۔

[73]. بخاری،محمدبن اسماعيل،صحيح البخاري،تحقيق: خليل مامون شيخا،حديث نمبر**۲۴۲۵**،مخ**۲۳۵** ۔

[74]. ابوداؤد،سليمان ابن اشعث،سنن ابي داؤد،مجلد ۲،جز۴،مخ ۲۲۰ ۔

[75]. ترمذی عيسٰی،محمد بن عيسی،سنن ترمذی،حديث نمبر **۲۲۲۷**،مخ۱۰۲۴ ۔

[76]. احمد بن حنبل، امام،مسند احمد،جلد **۳۹**، تخريج و تعليق: شعيب الارنؤوط و عادل مرشد، موسسه الرسالة،بيروت،لبنان، ۱۴۲۱ھ/ ۲۰۰۱م،حديث **۲۳۹۵۸**،مخ۳۸۱ ۔

[77]. الف: بخاری،محمدبن اسماعيل،صحيح البخاري،تحقيق: خليل مامون شيخا،حديث **۳۳**، مخ**۷۹** ۔

ب: ابي الحسين،مسلم بن الحجاج،القشيري،النيسابوري(نيشاپوري)،امام،حافظ،صحيح المسلم،مخ**۵۹** ۔

[78]. ابي الحسين،مسلم بن الحجاج،القشيري،النيسابوري(نيشاپوري)،امام،حافظ،صحيح المسلم،مخ**۵۹** ۔

[79]. بخاری،محمدبن اسماعيل،صحيح البخاري،تحقيق: خليل مامون شيخا،مخ **۷۹** ۔

[80]. ابي الحسين،مسلم بن الحجاج،القشيري،النيسابوري(نيشاپوري)،امام،حافظ،صحيح المسلم،مخونه **۵۸**، **۵۹** ۔

[81]. الف: ترمذی عيسٰی،محمد بن عيسی،سنن ترمذی،حديث **۲۳۵۲**،مخ**۹۲۹** ۔

ب: ابنِ ماجه،ابي عبدالله،محمدبن يزيدالقزويني،سنن ابن ماجه، حديث **۴۱۲۲**، مخ **۷۰۲** ۔

**References:**


1. Akhund Darweza, Tazkerat ul Abrab wal Ashrar, Idara ishaat sarhad, Peshawar, 1379hijri,Feb 1960, P148.
2. Badayuni, Abdul Qadir,Mulla, Muntakhab-ut-Tawarikh, jild 2,ba tashih: Movlavi Ahmad Ali Sahib, ba muqaddema wa ezafat: Taufique hy Suhani, anjman asar o mafakher farhangi, Tehran, chap awal 1380,P243.
3. Akhund Darweza, Tazkerat ul Abrab wal Ashrar, P148.
4. Kaka Khail, Taqwim ul Haq, sayed, Muqaddma mashmoola Makhzan, tasneef Akhwan Darweza Baba, Pashto Academy,University of Peshawar, dwyam chap, 1987, P لج.
5. Aftab Asghar, Dr, Tareekh Naveesi Farsi Dar Hend o Pakistan( Teemoryan Bazurg Az Baber Ta awrangzeb 932 – 1118 hejri Qamri) Khana e Farhang jamhoori islami Iran, lahore, Pakistan, Azar Mah1364 hejri shamsi,page369.
6. Bakhari, Shaikh Fareed, Zakheera tul Khawaneen, jeld duwm, muqaddema, tasheeh wa hawashi: moin ul haq, historical society, Karachi, 1970, page 223.
7. Mobad, Kekhesru Asfandyar,Dabistan-e-Mazaheb, jild Awal( Matan), Ba ehtemam: Rahim Raza Zada Malik, Tihran, chap awal,1362,P283.
8. Malik, Rahim Raza Zada, Talieeqat-e- Dabestan Maaheb, (,Dabistan-e-Mazaheb, jild Duvam, Mobad, Kekhesru Asfandyar (Taleeqat), Ba ehtemam: Rahim Raza Zada Malik, Tihran, chap awal,1362,P20.
9. Malik, Rahim Raza Zada, Talieeqat-e- Dabestan Maaheb, (,Dabistan-e-Mazaheb, jild Duvam, Mobad, Kekhesru Asfandyar (Taleeqat), Ba ehtemam: Rahim Raza Zada Malik, Tihran, chap awal,1362,P20.
10. Zalmy, Heewad Mal, Da Hend daketab khano Pashto khati nuskhy, da Afghanistan uloomo academy, da xabo o adbeyato markaz, Pashto Tolana, Kabul, 1363, P9.
11. Rafi, Habib ullah, Roshani leekany, arzani Pashto adabi tolana kheshki,Noshehra, 1989,P19.
12. Abi Naeem, Ahmad bin Abdullah, Ketab tareekh e asbahan ( zekre Akhbar e Asbahan), volume 2, Tahqeeq: syed Kasravi Hassan, Darl kutub ul ilmia, Berut, Labnon, 1410hejri/1990AD,Page285.
13. Bukhari, Muhammad bin ismail, Sahih ul Bukhari, Tahqeeq: Khalil Mamoon sheekha, Darl Maarefa, Berut, Labnon, 1425h/2004AD, Hadees No 164, page 117.
14. Abil Hussain, Muslim bin alhujaj, alqushairi, neshapuri, sahih ul muslim, etna Behi: abu sohaib alkarami, baitul afkar adowalia, Reyaz, Saudi, 1419hejri/1998AD, hades No486,page201.
15. A: Bukhari, Muhammad bin ismail, Sahih ul Bukhari,hades No6384,page1573.

B: Termizi, Muhammad bin esa, Sunan e Termizi, tahqeeq: Khalil Mamoon sheekha, Darl Maarefa, Berut, Labnon, 1423h/2002AD, Hadees No 3601, page 1379.

16. Abu Daud, Sulaiman bin asha'as, Sunan e abi Daud, vlume2,part 3, Tahqeeq wa hawashi; Muhammad Mahiuddin Abdul Hamee, Dar ahyaturas al arabi, Berut, labnon, chap kal na lari, Hadees No 3646, page318.
17. A. Abu Daud, Sulaiman bin asha'as, Sunan e abi Daud, vlume2,part 4, Hadees No 4703, page226, 227.
B. Termezi, Muhammad bin esa, Sunan e Termizi, Hadees No 3075, page 1182.
18. Abil Hussain, Muslim bin alhujaj, alqushairi, neshapuri, sahih ul muslim,hadees No2612,page1050.
19. Sa'uti, Jalaluddin,Al Fathulkabeer fi Zam e zeyada elal Jame us sagheer, volume1, Dar ketab ul arabi, chap kal na lari, Page212.
20. Ibne Maja, Abi Abdullah, Muhammad bin yazeed, Alqazweeni, Sunan e Ibne Maja, Dar ahyaturas al arabi, Berut, labnon,1421H/2000AD,Hadees No4259,page727.
21. Hakem, Neshapuri, Muhammad bin Abdullah, Almustadrak ala saheehain, volume4, derasah wa tahqeeq: Mustafa Abdul Qader Atta, Darlkutub ul ilmia, 1422H/2002AD,Hadees No8623,Page583.
22. Abi Ya'ala, Ahmad bin Ali, almoseli, Musnad e Abi Ya'ala, volume 5, Tahqeeq wa taleeq: irshad ul haq al asari, moasasa uloom ul quran, 1408H/1988AD, Hadees No 5900, page 352.
23. Termezi, Muhammad bin esa, Sunan e Termizi, Hadees No 1162, page 490.
24. Ibid,Hadees 2191,872.
25. Abil Hussain, Muslim bin alhujaj, alqushairi, neshapuri, sahih ul muslim,page1096.
26. Ghazali, Muhammad, Imam, Ihya uloom e Deen, wa be zail e hi, Ketab ul Mugheeni, un hemalel asfar fel asfar fi takhreej ma'a fel ihya men al asfar, Volume 2, lil alamma Abdurrahman bin hussain al Iraqi, Darl ma'arefa, Berut, Labnan, awal chap1425H/2004AD,page1432.
27. Ghazali, Muhammad, Imam, Bedayat ul hedayah, Tahqeeq: Anas Muhammad Adnan Sharfawee, aw da dn malgari, Darl minhaj lenashre watawze'a, Jaddah, 1425H/2004AD, Page205.
28. Ghazali, Muhammad, Imam, Ayoh al walad, Tahqeeq wa Taleeq: Ali Maheuddin, Ali alquradaghee, Sherka Darl bashayer islamia, Berut, Labnan, 4th edition 1431H/2010AD,Page104.
29. Halbi, Ahmad bin Fahad, edatuddaa' wa najahussa'e, Tasheeh wa Taleeq: Ahmad almohadee alqummee, Darl kutub al islami, 1407H/1987AD,Page34.

30. A. Termezi, Muhammad bin esa, Sunan e Termizi, Hadees No 2459, page 964.
B. Ibne Maja, Abi Abdullah, Muhammad bin yazeed, Alqazweeni, Sunan e Ibne Maja, Hadees No 4260,page727.
31. Termezi, Muhammad bin esa, Sunan e Termizi, Hadees No 1926, page 778.
32. Ibid,Hadees No1376,Page578.
33. Abil Hussain, Muslim bin alhujaj, alqushairi, neshapuri, sahih ul muslim,page787.
34. Ibne Maja, Abi Abdullah, Muhammad bin yazeed, Alqazweeni, Sunan e Ibne Maja, Hadees No 4229,page722.
35. Bukhari, Muhammad bin ismail, Sahih ul Bukhari,hades No7492,page1806.
36. Ibid, Hadees No8,Page 72.
37. Ahmad bin Hambal,Imam, Musnad e Ahmad, Volume12, Takhreej wa taleeq: Shoaib al arna'oot, Adel Murshed, Mosasat ur resala, Berut, Labna, 1st editon 1417H/1997AD, Hadess No7368,Page326.
38. Abu Daud, Sulaiman bin asha'as, Sunan e abi Daud, vlume1,part 1, Hadees No 8, page 3.
39. Ibne Maja, Abi Abdullah, Muhammad bin yazeed, Alqazweeni, Sunan e Ibne Maja, Hadees No 313,page 62.
40. Abil Hussain, Muslim bin alhujaj, alqushairi, neshapuri, sahih ul muslim,page319.
41. Ibid, Page119.
42. Bukhari, Muhammad bin ismail, Sahih ul Bukhari,hades No 6006,page 1498.
43. Ibid, Hadees No 5353,Page 1372.
44. Ibne Maja, Abi Abdullah, Muhammad bin yazeed, Alqazweeni, Sunan e Ibne Maja, Hadees No 398,page 75.
45. Ibid,Hadees 420, Page 78.
46. Bukhari, Muhammad bin ismail, Sahih ul Bukhari,hades No 6954,page 1693.
47. Abu Daud, Sulaiman bin asha'as, Sunan e abi Daud, vlume 1,part 1, Hadees No 62, page 16.
48. A. Termezi, Muhammad bin esa, Sunan e Termizi, Hadees No 106, page 63.
B. Abu Daud, Sulaiman bin asha'as, Sunan e abi Daud, vlume 1,part 1, Hadees No 248, page 65.
49. Bukhari, Muhammad bin ismail, Sahih ul Bukhari,hades No 1, page 65.
50. A. Bukhari, Muhammad bin ismail, Sahih ul Bukhari,hades No 50,page 84.
B. Abil Hussain, Muslim bin alhujaj, alqushairi, neshapuri, sahih ul muslim,page 106.
51. Termezi, Muhammad bin esa, Sunan e Termizi, Hadees No 265, page 134.
52. Bukhari, Muhammad bin ismail, Sahih ul Bukhari,hades No 6251, page 1546.
53. Ibid, Hadees No 6008, Page 1499.
54. ~~Termezi, Muhammad bin esa, Sunan e Termizi, Hadees No 3371, page 1300.~~

55. Ibid, Hadees No 3372, Page 1300.
56. Ibid, Hadees No 415, Page 200.
57. Abil Hussain, Muslim bin alhujaj, alqushairi, neshapuri, sahih ul muslim,page 391.
58. Ibid, Page 444.
59. Ibne Maja, Abi Abdullah, Muhammad bin yazeed, Alqazweeni, Sunan e Ibne Maja, Hadees No 1639,page 276.
60. An- Nesaye, Ahmad, Abdur Rahman, Sunan e Nesaye, Dar ahya alt uras al arabi, Berut, Labnan, 1421H/ 2001AD, Hadees No 2096, Page 363.
61. Abil Hussain, Muslim bin alhujaj, alqushairi, neshapuri, sahih ul muslim, page 381.
62. Bukhari, Muhammad bin ismail, Sahih ul Bukhari,hades No 1460, page 407.
63. Ibid, Hadees No 1403, Page 393.
64. Termezi, Muhammad bin esa, Sunan e Termizi, Hadees No 2141, page 853.
65. A. Abil Hussain, Muslim bin alhujaj, alqushairi, neshapuri, sahih ul muslim, page 64.
    B. Abu Daud, Sulaiman bin asha’as, Sunan e abi Daud, vlume 2,part 4, Hadees No 4091, page 59.
66. Abu Daud, Sulaiman bin asha’as, Sunan e abi Daud, vlume 2,part 3, Hadees No 2769, page 78.
67. A. Al tebrani, Sulaiman bin Ahmad, Al mu’ajam ul awsat, volume 4, Tahqeeq: Tareq bin awaz ullah , Abdul Muhsin bin Ibrahim, darl haramain, leteba’a wanshr watwa’a, 1415H/1995AD, Hadees No 4252, Page 298.
    B. Sa’uti, Jalaluddin,Al Fathulkabeer fi Zam e zeyada elal Jame us sagheer, volume 3, Dar ketab ul arabi, chap kal na lari, Page 172.
68. Abu Daud, Sulaiman bin asha’as, Sunan e abi Daud, vlume 2,part 4, Hadees No 4903, page 276.
69. Ibid, Hadees No 4703, Page 227.
70. Termezi, Muhammad bin esa, Sunan e Termizi, Hadees No 3075, page 1182.
71. Abil Hussain, Muslim bin alhujaj, alqushairi, neshapuri, sahih ul muslim, page 1032.
72. Ibne Maja, Abi Abdullah, Muhammad bin yazeed, Alqazweeni, Sunan e Ibne Maja, Hadees No 65,page 22.
73. Bukhari, Muhammad bin ismail, Sahih ul Bukhari,hades No 2465, page 635.
74. Abu Daud, Sulaiman bin asha’as, Sunan e abi Daud, vlume 2,part 4, page 220.
75. Termezi, Muhammad bin esa, Sunan e Termizi, Hadees No 2627, page 1024.
76. Ahmad bin Hambal,Imam, Musnad e Ahmad, Volume 39, Takhreej wa taleeq: Shoaib al arna’oot, Adel Murshed, Mosasat ur resala, Berut, Labna, 1st editon 1421H/2001AD, Hadess No 23958, Page 381.

77. A. Bukhari, Muhammad bin ismail, Sahih ul Bukhari,hades No 33, page 79.
B. Abil Hussain, Muslim bin alhujaj, alqushairi, neshapuri, sahih ul muslim, page 59.

78. Abil Hussain, Muslim bin alhujaj, alqushairi, neshapuri, sahih ul muslim, page 59.

79. Bukhari, Muhammad bin ismail, Sahih ul Bukhari, page 79.

80. Abil Hussain, Muslim bin alhujaj, alqushairi, neshapuri, sahih ul muslim, page 58,59.

81. A. Termezi, Muhammad bin esa, Sunan e Termizi, Hadees No 2352, page 929.
B. Ibne Maja, Abi Abdullah, Muhammad bin yazeed, Alqazweeni, Sunan e Ibne Maja, Hadees No 4126, page 706.